افغان کرکټ
AFGHAN CRICKET

بریا د ټولو هیله

اتم کال، لومړۍ ګڼه | جنوري - فبروري ۲۰۲۱ کال

د افغانستان کرکټ بورډ
د رسنیو څانګه
میاشتنۍ مجله
جنوري ـ فبروري - ۲۰۲۱



د امتیاز خاوند:
د افغانستان کرکټ بورډ اداره د رسنیو څانګه

لیکوالان او راټولوونکي:
سید خوشحال سادات، محمد فرید
هوتک، عبدالله سهاک، زرمینه سپيڅلې،
پرهیز شګیوال، محمدنعمان اشرفي

عکس اخیستونکي:
سید حسرت سادات

ډیزاین: احمد عابد سعادت

بازار موندنه: نجي الرحمن عزيزي

media@afghancricket.af
AfghanistanCricketboardOfficial
@ACBOfficials
afghanistancricketboard
www.cricket.af
Kabul International Cricket Stadium Near Chaman-e-Huzoori, Khan Abdul Ghani Khan Road, Kabul Afghanistan

لیکلړ

سرمقاله ۱
په ورزش او د کرکټ په لوبغالي کې د ننداره چیانو رول او ارزښت ۲
د کرکټ بورډ د عمومي رئیس په مشرۍ کلنۍ عمومي ناسته ترسره شوه ٦
فغان کرکټ لوبډلې له ایرلنډ درې پرله پسې لوبې وګټلې او د کاردان پوهنتون جام یې په خپل نوم کړ ۱۲
د پرېکړو د بیا کتنې سیستم یا Decision Review System - DRS څه دول سیستم دی؟ ۱۸
د کرکټ لوبغالي او ویشتن ځای ۲٤
هغه ځوان چې په لومړۍ نړیوالې یو ورځنۍ لوبه کې یې لومړۍ سلیزه ووهله. ۳۲
د افغانستان کرکټ لپاره د چټک توپ اچوونکي موندنه ۳۸
بیت کرکټ ٤۰
قرعه (شیر و خط) ٤۲
ځوانو لوبغاړو ته د لوبو فرصتونه ٤٤
د کرکټ بورډ د بدن ښکلا کلب مسول سره مرکه ٤٦
KFC BBL|10: Three rule innovations introduced for new season ٥٦

سرمقاله

که څه هم ۲۰۲۰م کال د افغانستان او د ټولې نړۍ کرکټ او ورزش لپاره د کرونا له امله زیانمن کال و؛ خو د ۲۰۲۱م کال پیل د افغانستان لپاره ډېر ښه او غوره پیل و، چې په لومړۍ میاشت کې افغانستان ایرلنډ لوبډلې ته د کرکټ نړیوالې شورا د یو ورځنیو سیالیو غوره لیګ کې چې د ۲۰۲۳م کال نړیوال جام ته د لار موندنې پړاو هم دی، ایرلنډ ته په درې پرلپسې لوبو کې ماتې ورکړې او په دغه لیګ کې یې ۳۰ امتیازونه ترلاسه کړل.

د یادونې وړ ده چې روان او راتلونکی ۲۰۲۱م کال به افغانستان کې کورنۍ او نړیوال کرکټ ولري، چې مهم یې د کرکټ نړیوالې شورا د یو ورځنیو سیالیو غوره لیګ دی؛ چې د ۲۰۲۳م کال نړیوال جام ته د لار موندنې پړاو هم بلل کېږي ولوبوي. له یاد لیګ څخه به د افغانستان په کډون اته لوبډلې ۲۰۲۳م کال نړیوال جام ته د لار موندنې هڅه کوي؛ چې افغانستان به په دې لړ کې له ایرلنډ، هندوستان، سریلانکا، متحده عربي امارات، پاکستان، زمبابوې، هالنډ یا نیدرلنډ، بنګله دیش او استرالیا سره لوبې ترسره کړي؛ چې له دې ډلې له ایرلنډ سره لوبې ترسره شوې او افغانستان په کې بریاوې ترلاسه کړې او د دغه لیګ په درجه بندۍ کې یې له استرالیا، بنګله دیش او انګلستان وروسته څلورم مقام خپل کړی.

د کرکټ دولسم لوبغاړی

په ورزش او د کرکټ په لوبغالي کې د ننداره چیانو رول او ارزښت

نړۍ او هر ځای په انسانانو ښکلی دی او د سیاست برخه کې داسې ویل کېږي چې دولت له ۴ برخو جوړ دی چې یو یې خلک یا نفوس دي؛ همدا ډول د ورزش برخه کې هم خلک مهم رول لري او د ورزش نورو لوبو ترڅنګ کرکټ بغیر له خلکو او ننداره کوونکو فلج حسابېږي او د دې احساس به د لوبغاړو ترڅنګ د کرکټ او ورزش مینوالو ته په تېرو څو میاشتو کې د کرونا له امله شوی وي چې کرکټ بغیر له ننداره کوونکو کم خوند او رنګ لري. کرکټ کې اصطلاح ده چې (ننداره چیان په لوبغالي کې د یوې لوبډلې سره د دولسم لوبغاړي رول ادا کوي) او د کومې لوبډلې د ننداره کوونکو شمېر چې زیات وي د هماغې لوبډلې لوبغاړي د مخالفې لوبډلې په پرتله زیاته هڅه کوي او لوبغالي کې د هغوی چغې، چکچکې او غږونه دوی اړ کوي تر څو په توپ وهنه، توپ اچونه او توپ نیونه کې له نورو ښه وړتیا وښايي او خپل ننداره کوونکي خوشحاله وساتي.

د افغانستان د کرکټ له تاریخ سره سم دا خبره هم د یادولو وړ ده چې د نړۍ په کومو هېوادنو او کوم ځای کې چې افغانستان د کرکټ لوبه ترسره کړې؛ نو داسې ځای او هېواد نشته چې هلته دې د افغان لوبغاړو ترڅنګ افغان ننداره چیان نه وي؛ یعنې له همدې ځایه معلومېږي چې د افغانستان د کرکټ ملي او نورو لوبډلو په برياو کې له لوبغاړو وروسته ننداره کوونکو زیات او مهم رول لوبولی او لا یې هم لوبوي. لکه مخکې مو چې یادونه وکړه کرکټ او ورزش له ننداره چیانو پرته تقریباً فلج او بې خونده حسابېږي؛ نو همدا لامل دی چې مونږ په تېرو څو میاشتو کې د کرکټ لوبې له ننداره چیانو پرته ولیدې او د لوبو برابرونکي او مسؤلین دې ته اړ شؤل تر څو په لوبغالي کې د ننداره کوونکو مصنوعي او پخواني ثبت شوي غږونه نشر ته وسپاري او لوبې ته نسبي خوند او رنګ ورکړي لکه د هندوستان او کربین غوره لیګونه چې لوبغالو کې یې د ننداره چیانو شور او ولولې نشر ته سپارلې. د ننداره چیانو همدې ارزښت ته په کتو د افغانستان کرکټ بورډ اداري د تېر اووم پړاو شپږیزې سیالیو د ترسره کېدو د مخه او د کرونا ویروسي ناروغۍ احتیاطي تدابیرو ته په پام د افغانستان د عامې روغتیا له وزارت څخه د نورو قانوني کارونو د اجازې اخیستو ترڅنګ په لوبغالي کې د ۳۰٪ سلنه ننداره چیانو د پریښودو اجازه هم اخیستې وه. همدلته باید یاده کړو چې د افغانستان کرکټ بورډ اداري په افغانستان کې ټولو ملي کرکټ لوبغالو کې د لوبې د ننداره

کوونکو لپاره مناسب د ناستې ځایونه برابر کړي او د ځینو د رغېدو چارې اوس مهال دوام لري.

د ننداره چیانو موضوع له یادولو سره سم د ننداره کونکو په منځ کې یو څو مشخص کسان هم د یادولو وړ دي؛ چې ځینې یې د هېوادونو او ځینې یې بیا د یو لوبغاړي لپاره لوبغالي ته ورځي، د هېوادونو له بېرغونو جامې کوي او د لوبغاړو نومونه او لباس نمبر یې پر خپل مخ او بدن رسموي او د یادو هېوادونو ترڅنګ لوبغاړي له نیږدې تشویقوي؛ هېره دې نه وي چې له ښه مرغه! افغانستان هم د دغو هېوادونو له ډلې وروسته نه دی پاتې او د نورو ګڼو ننداره چیانو لرلو ترڅنګ د (رضا خان کاکا) په نوم یو مشر او د(شېر خان) په نوم د لوړ قد ننداره کونکي هم لري او د افغانستان کرکټ سره مینه یې اړ کوي چې لوبغالي ته د ګران هېواد له ۳ رنګه بېرغ سره لاړ شي او لوبډله له نیږدې و هڅوي.

د کرکټ بورډ د عمومي رئيس

په مشرۍ کلنۍ عمومي ناسته ترسره شوه

افغانستان کرکټ بورډ کې د۲۰۲۰ کال د جنورۍ مياشتې په ۱۳مه نېټه د يادې ادارې د عمومي مشر ښاغلي فرهان يوسفزي په مشرۍ د دغې ادارې د بورډ غړو او اجرائيه رئيس ښاغلي رحمت الله قريشي په ګډون کلنۍ عمومي ناسته ترسره شوه چې په ترڅ کې يې د تېر ۲۰۲۰ز کال کلنۍ راپور او د روان کال پر پلان خبرې اترې وشوې.

د افغانستان کرکټ بورډ د اساسنامې له اصولو سره سم د يادې غونډې مشرې د ادارې عمومي مشر پر غاړه درلوده او ترڅنګ يې اجرائيه رئيس د مشر او بورډ غړو په اجازه د لاسته راوړنو او پلان معلومات د پرزېنټېشن له لارې له ګډونوالو سره شريک شول.

په پيل کې د ښاغلي يوسفزي له لورې ټولو ګډونوالو ته ښه راغلاست ووېل شو او په وينا يې، افغان کرکټ په تېر کال کې له شته خنډونو سربېره بيا هم په ډېر بريالی شو چې ستري لاسته راوړنې ولري، په ټولو برخو کې اصلاحات رامنځته شول، د دولت د بشپړې همکارۍ په پايله کې په پلازمېنه کابل کې د لوبغالي د جوړېدو لپاره ۱۰۰ جريبه ځمکه ځانګړې او د لسيزې د غوره لوبغاړي په توګه د راشدخان د ټاکل کېدو وياړ ترلاسه کړي.

نوموړي زياته کړه: ((راتلونکی کال هم د افغان کرکټ په تاريخ کې د لوبو د مهالوېش له اړخه تر ټولو بوخت کال دی، د دغه کال لپاره مو غوره پلانونه، د عوايدو سرچينې، اصلاحات، پاليسی او نور ډېر اړين موارد په پام کې نيولي چې هيله ده په ښه توګه يې تنظيم او ترلاسه کړو.)) ورپسې اجرائيه رئيس هم د ادارې د لاسته راوړنو، کورني کرکټ، نړيوال کرکټ، عوايدو، د راتلونکي کال د لوبو، کابل کې د نوي کرکټ لوبغالي، مالي حسابونو او تصفيې، د پاليسيو جوړونې، د ښځينه کرکټ او نورو اړوند مواردو او اصلاحاتو په تړاو پرزنټېشن وړاندې کړ.

ښاغلي رحمت الله قريشي د پرزنټېشن د وړاندې کولو په پيل کې له ولسمشر جلالتماب محمد اشرف غني څخه ځانګړې مننه وکړه چې په وينا يې د کرکټ د نوي لوبغالي د جوړېدو لپاره يې ادارې ته ۱۰۰ جريبه ځمکه ځانګړې کړه، چې په روان کال کې به يې لومړنی رغنيزې چارې پيل شي.

نوموړي د پرزنټېشن له مخې زياته کړه: ((تېر کال مو کورني کرکټ کې د لېسټ ای، شپږيزه کرکټ لیګ، دريمه درجه، دويمه درجه او لومړۍ درجه يا ايليټ جام، له ۱٦ کلنو د کم عمره لوبغاړو، د ۱۹ کلنو کم عمره لوبغاړو او د معلوليت لرونکو لوبغاړو ترمنځ سيالی د او

چمتووالي روزنيز کمپونه ترسره کړل.))
ښاغلي قريشي وويل: ((دغه راز مو د کال په ترڅ کې د ملي لوبډلې د چمتووالي په موخه حتی د کرونا د لومړۍ څپې له ختمېدو سره سم روزنيز کمپ پيل کړ، په متحده عربي اماراتو کې هم ورته کمپ چمتو شو او د ايرلنډ پر وړاندې له سياليو وړاندې مو ورته په ګريټر نويډا کې هم د چمتووالي کمپ او سيالۍ برابرې کړې.))
نوموړي په دې تړاو وويل، دا چې تېر کال کرونا ناروغۍ ټوله نړۍ وځپله، نو کرکټ هم ترې په امان کې پاتې نه شو او همدا لامل و چې افغان کرکټ تېر کال ډېر کم کرکټ درلود چې د تېر کال کرکټ به هم سر کال جبران شي او په روان کال کې به د ډېرو سياليو شاهدان واوسو.

د ياد معلوماتي پرزنټېشن په بله برخه کې ښاغلي قريشي، د اداري اصلاحاتو په تړاو معلومات وړاندې کړل چې په وينا يې ((اوسمهال يې د تدارکاتو ټولې چارې د يوه روڼ سيستم يا ټکنالوژۍ له مخې پر مخ وړل کېږي، مېلمستونونه مو وتړل، ترڅو له بې ځايه لګښتونو ډډه وشي او لوبغاړو ته به د سياليو پر مهال د هستوګنې لنډمهاله ځايونه په کرايه نيول کېږي؛ چې دا چاره هم له بې ځايه لګښتونو د مخنيوي په برخه کې غوره ګام و.))
ښاغلي قريشي همدارنګه وويل: ((د



۲۰۱۹ز کال په پرتله، په ۲۰۲۰ کال کې زموږ مالي پرتلنه ښه وه او د ياد کال په پرتله مو په تېر کال کې مالي ثبات او کچه لوړه وه، په داسې حال کې چې په ۲۰۲۰ز کال کې د کرونا ناروغۍ هم رامنځته شوه.))
قريشي دغه راز د اداري بشري سرچينو په برخه کې د اصلاحاتو رامنځته کولو ته اشاره وکړه چې په وينا يې اوسمهال ټول کارکوونکي د رښې پروسې په پايله کې له ازموينې وروسته ګومارل کېږي.

پر دې سربېره قريشي وويل: ((د لوبغاړو د ورتيا ښودنې د ثبت لپاره مو هم پر يوه ډېټابېس او اپليکېشن کار روان کړی، چې ټول معلومات او ورتيا ښودنه به يې په کې موجوده وي او له همدې لارې به په اتومات ډول لوبغاړي غوره کېږي، چا چې له ځانه غوره ورتيا ښودلې وي؛ لوبډلې ته به لاره مومي او هېوادوال به يې هم په ښه توګه څاري.))
نوموړي زياته کړه، همدارنګه مو د ټولو څانګو لپاره د پاليسيو د ترتيب، ستراتېژيک پلان، د تدارکاتو پاليسي، د کال په وروستيو کې د ټولو څانګو د راپور اورېدو، د غوراوي په برخه د غوره ګامونو اخيستو، د ښځينه کرکټ، لوبغالو د جوړېدو، د کرکټ اکاډېميو د ثبت او عوايدو ترلاسه کولو، په ولايتونو کې د کرکټ لوبغالو د جوړېدو او کرکټ پرمختيا په برخه کې چټک ګامونه پورته کړي دي.

ښاغلي قریشي سربېره پر دې د پلان او یو شمېر نورو مواردو د وړاندې کولو ترڅنګ د بورډ له ټولو غړو هیله څرګنده کړه، ترڅو د یادو چارو د غوره ترسراوي په موخه د عمومي ملاتړ کوونکي سربېره د بېلابېلو مالي ملاتړ کوونکو په پیدا کولو کې ورسره مرسته وکړي چې پر بنسټ یې ټول پلان شوې چارې په ښه توګه عملي کړي.
قریشي همدارنګه وویل، که څه هم سږ کال ډېر کرکټ لرو، خو د افغانستان شل اوریزه غوره لیګ مو هم له پامه نه دی غورځولی، له ملي ټلویزیون سره چې زموږ ستراتېژیک ملګری دی؛ پرې په ګډه کار کوو او ډېر ژر به په راتلونکو سیالیو کې هم د دغه لیګ دویم پړاو سیالۍ ترسره شي.

په دغه ناسته کې د بورډ غړو چې هر یوه ښاغلي هارون میر، ښاغلي ضیاءالحق امرخېل، ملي لوبغاړي ښاغلي محمد نبي، ښاغلي فریدون الهام او اغلې ګلالۍ نور ساپۍ ګډون درلود، یو په بل پسې خپل وړاندیزونه او پوښتنې وړاندې کړې چې ورته د کرکټ بورډ د عمومي رئیس ښاغلي فرهان یوسفزي او اجرائیه رئیس ښاغلي رحمت الله قریشي له لوري په ښه توګه ځوابونه ورکړل شول.
د عوایدو کچې د زیاتېدو په تړاو د بورډ غړو د یوې پوښتنې په ځواب

کې ښاغلي یوسفزي وویل: ((د کرکټ نړیوالې شورا له مشر سره یې خبرې کړې، ترڅو افغان کرکټ ته هم د بشپړ غړیتوب لرونکي هېواد په اندازه پیسې ورکړي، سربېره پر دې مو د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت او له یو شمېر نورو هېوادونو هم هیله کړې، چې په ځانګړې ډول د کابل کرکټ معیاري لوبغالي د جوړېدو او د عمومي مالي ملاتړ کوونکي په ډګرونو کې ورسره مرسته وکړي، هیله ده دغه پلان په نږدې راتلونکي کې پر حقیقت بدل شي.))
په پای کې د افغانستان کرکټ بورډ غړو له عمومي رئیس ښاغلي فرهان یوسفزي مننه وکړه چې ټولې چارې یې په ښه توګه سمبال کړي او د روان ۲۰۲۱ز کال لپاره یې غوره پلانونه په پام کې نیولي دي چې سربېره پر دې یې د لوبډلې د عمومي ملاتړ کوونکي او د لوبغالي د جوړېدو لپاره د مرستو او همکاریو د راجلبولو ژمنه وکړه.

د یادونې وړ ده چې د کلني عمومي پلان غونډه د هر کال په پای کې د افغانستان کرکټ بورډ د عمومي مشر، د بورډ غړو او اجرائیه رئیس ترمنځ ترسره کېږي؛ چې په ترڅ کې یې د هر تېر کال په لاسته راوړنو او د راتلونکي کال په پلان او اصلاحاتو بحثونه کېږي.

افغان کرکټ لوبډلې له ایرلند درې پرله پسې لوبې وګټلې او د کاردان پوهنتون جام یې په خپل نوم کړ

کاردان پوهنتون د افغانستان کرکټ بورډ اداري سره د هوکړې په تایید د ایرلنډ پر وړاندې د درېو سیالیو د عنوان د مالي ملاتړ کوونکي امتیاز ترلاسه کړ، په دې سره دیادې هوکړې له مخې چې د یادو سیالیو د هرې لوبې د غوره لوبغاړي او همدارنګه د لوبلړۍ د غوره لوبغاړي جایزې هم ورکړې چې د یادو سیالیو جام هم د کاردان پوهنتون د جام په نامه ونومول شو. یادې لوبې د ۲۰۲۱ میلادي کال د جنورۍ میاشتې په ۲۱، ۲۴ او ۲۶ نېټه ترسره شوې چې د افغانستان او ایرلنډ کرکټ ملي لوبډلو ترمنځ د کاردان پوهنتون د اتلولۍ جام لوبو لړۍ، د افغان لوبډلې د ۳-۰ په بریا سره پای ته ورسېدې.

لومړۍ لوبه: د ګربز غوره توپوهنې افغان لوبډله تر بریا ورسوله

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې د کاردان پوهنتون د اتلولۍ جام په لومړۍ پنځوس اوریزه لوبه کې ایرلنډ ملي لوبډلې ته د ۱۶ منډو په توپیر ماتې ورکړه چې په یاده بریا کې د رحمن الله ګربز ۱۲۷ منډو ستر رول ولوباوه. د لوبې په پیلېدو سره افغان لوبډلې د یادې سیالۍ پچه وګټله چې لومړۍ یې د ایرلنډ پر وړاندې د توپوهنې پرېکړه وکړه چې په ترځ کې یې په ټاکلو ۵۰ اورونو کې د ۹ ویکټو په سوځېدو سره ۲۸۷ منډې وکړې او ایرلنډ ته یې د ۲۸۸ منډو هدف وټاکه. په دغه لوبه کې، رحمن الله ګربز ۱۲۷ منډې، راشد خان ۵۵ چټکې منډې، جاوید احمدي ۳۸ منډې او نجیب الله ځدراڼ ۲۹ منډې ترلاسه کړې. په داسې حال کې چې ایرلنډ لوبډلې ته په توپ اچونه کې مک براین ۵ ویکټې، سیمي سینګ، ګیریت دیلاني او بیري مکارتي یوه - یوه ویکټه ترلاسه کړه. ورپسې ایرلنډ لوبډلې، د افغانستان د ۲۸۸ منډو هدف د پوره کولو په موخه توپوهنه پیل کړه، خو د افغان لوبډلې هدف یې پوره نه کړای شو او په ټاکلو ۵۰ اورونو کې یې د نهو ویکټو په غورځېدو سره ۲۷۱ منډې وکړې او د ۱۶ منډو په توپیر یې افغانستان ته لوبه وبایلله. د ایرلنډ په استازیتوب په توپوهنه کې لورکن ټکر ۸۳ منډې، سټرلنګ ۳۹ او کامپهر هم ۳۹ منډې ترلاسه کړې. باید ووېل شي چې د افغانستان له لوري په توپ اچونه کې نوین الحق ۳ ویکټې، راشد خان او مجیب ځدراڼ هر یوه دوه ویکټې، نبي عیسی خیل او ګلبدین نائب بیا یوه یوه ویکټ ترلاسه کړه او په پایله کې یې د افغانستان په ګټه بریا خپله کړه. په دغه لوبه کې، افغان ځوان لوبغاړي راشد خان څلور ویکټې واخیستې، چې له امله یې د غوره لوبغاړي جایزه هم خپله کړه. ایرلنډي لوبغاړی پاول سټرلېنګ هم د غوره توپوهنې له امله د غوره لوبغاړي جایزه واخیسته.

دوهمه لوبه: افغان لوبډلې د کاردان پوهنتون اتلولۍ جام په خپل نوم کړ

د دوهمې لوبې پچه ایرلنډ کرکټ لوبډلې وګټله او لومړی یې د توپوهنې پرېکړه وکړه. ایرلنډ کرکټ لوبډلې د ۵۰ اورونو په لوبولو او د نهو ویکټونو د سوځېدلو په پایله کې افغانستان ته د ۲٦۰ منډو هدف وټاکه. د یادې لوبډلې په استازیتوب د توپوهنې په پایله کې پاول سټېرلنګ ۱۲۸، کورټس کمفر ۴۷ او هېري ټکر ۲۴ منډې وکړې. د افغان کرکټ لوبغاړو له ډلې نوین الحق څلور ویکټې، مجیب الرحمن درې ویکټې، ګلبدین نایب او راشد خان یوه-یوه ویکټه ترلاسه کړه. افغان اتلانو د سیالۍ لوبډلې د هدف د پوره کولو په موخه پاڼۍ پیل کړه چې له منځه یې رحمت شاه او حشمت الله شهیدي ډېر ښه وځلېدل او په ترتیب سره یې ۱۰۳ ناسوځېدلې او ۸۲ منډې وکړې. دغه راز دغو لوبغاړو د ۱۸۴ منډو ملګرتیا هم وکړه چې له امله یې افغان لوبډلې د اوو ویکټو په توپیر په ۴۵،۲ اورونو کې بریا خپله کړه. سربېره پر دې باید وویل شي چې افغان پیلوونکو توپ وهونکو رحمن الله ګربز او جاوید احمدي ښه پیل وکړ چې بیا یې هر یوه په ترتیب سره د ۳۱ او ۱٦ منډو له ترلاسه کولو وروسته ویکټې له لاسه ورکړې. د ایرلنډ په استازیتوب سیمي سېنګ، بیري مک کارټي او کورټس کمپهر یوه-یوه ویکټ واخیسته، خو لوبډله یې بریا ته ونه رسوله. ددغې لوبې په پای کې، رحمت شاه چې ۱۰۳ ناسوځېدلې منډې یې ترلاسه کړې وې؛ د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه ترلاسه کړه.

لومړی لوبه: د ګربز غوره توپوهنې افغان لوبډله تر بریا ورسوله

د یادې لوبلړۍ د وروستۍ لوبې پچه د ایرلنډ لوبډلې وګټله چې افغانستان ته یې لومړی د توپوهنې بلنه ورکړه، افغان لوبډلې د ۹ ویکټو په غورځېدو سره له سیال لوري ۲٦٦ منډې ترلاسه کړې او د ۲٦۷ منډو هدف یې ورته وټاکه. د افغانستان لپاره په توپوهنه کې راشد خان چټکې ۴۸, اصغر افغان ۴۱، ګلبدین نایب ۳٦ او محمد نبي ۳۴ منډې وکړې چې په دې سره راشد خان د نړیوالو یو ورځنیو لوبو ۱۰۰۰ منډې هم پوره کړې. د ایرلند کرکټ ملي لوبډلې دوه لوبغاړو یونګ، او سیمي سینګ هر یوه ۳-۳ ویکټې ترلاسه کړې. ورپسې ایرلنډ لوبډلې د پاول سټرلېنګ د ۱۱۸ منډو د غوره توپوهنې سربېره بیا هم ونه شوای کړلی، ترڅو د افغان لوبډلې هدف ته ځان ورسوي او د ټولو لوبغاړو په سوځېدو سره یې په ۴۷.۱ اورونو کې ۲۳۰ منډې جوړې کړې او د ۳٦ منډو په توپیر یې وروستۍ لوبه هم افغانستان ته وبايلله. د افغانستان لپاره راشید خان ۴ ویکټې، مجیب ځدراڼ دوه ویکټې، محمد نبي او نوین الحق یوه یوه ویکټ ترلاسه کړه. پر همدې بنسټ د نننۍ غوره توپ اچونې له امله راشد خان چې څلور ویکټې یې اخیستې وې، د غوره لوبغاړي جایزه ترلاسه کړه، سربېره پر دې پاول سټرلېنګ هم د غوره توپوهنې له امله د یادې لوبلړۍ د غوره لوبغاړي جایزه واخیسته. افغانستان د دې لوبلړۍ په ګټلو سره د کرکټ نړیوالې شورا د یو ورځنیو سیالیو لیګ په چوکاټ کې ۳۰ امتیازونه لاسته راوړل.

ABU DHABI CRICKET



د پرېکړو د بیا کتنې سیسټم څه ډول سیسټم دی؟

Decision Review System

حکیم احمدزی

د پرېکړو د بیا کتنې سیسټم یا (DRS) په ټکنالوژۍ ولاړ سیسټم دی چې د لوبې په جریان کې له لوبڅارانو سره د هغوی په پرېکړو کې مرسته کوي. دغه سیسټم له لوبڅارانو سره مرسته کوي چې د کرکټ د لوبې په جریان کې سالمې او سمې پرېکړې وکړي. د پرېکړو د بیا کتنې غوښتنه د لوبغاړو ترڅنګ ځینې وخت په لوبغالي کې موجود لوبڅاران هم کوي چې د ځینو نږدې یا سختو پرېکړو د بیا کتنې لپاره یې له دریم لوبڅار څخه کوي. د لوبغاړو لخوا د پرېکړو بیا کتنې ته (Player Review) ویل کیږي چې لوبغاړي یې په لوبغالي کې د ولاړ لوبڅار په مرسته له دریم لوبڅار څخه د ځان په حق کې د شویو پرېکړو د بیا کتنې غوښتنه کوي. د لوبڅارانو لخوا د پرېکړو بیا کتنې ته (Umpire Re-view) ویل کیږي چې لوبڅاران یې په خپله خوښه له دریم لوبڅار څخه د بیا ځلې کتلو غوښتنه کوي. لوبڅاران په خپله غوښتنه کې د سټمپ اوټ، رن اوټ او پېچلیو یا سختو کېچونو چې ځمکې یا بونډرۍ سره نږدې وي، د معلوملو غوښتنه کوي. د کرکټ په لوبه کې د لومړي ځل لپاره د لوبڅار لخوا د پرېکړو د بیا کتنې سیسټم په ۱۹۹۲م زیږدیز کال کې وکارول شو، دغه مهال یاد سیسټم یوازې په ټیسټ لوبو کې کارول کېده او یوازې یې د لوبڅارانو خپلې پرېکړې بیا ځلې کتلې چې بیا وروسته په ۲۰۰۸م زیږدیز کال کې یاد سیسټم ته د لوبغاړو لخوا د پرېکړو د بیا ځلې غوښتنه هم اضافه شوه او په همدې کال کې د هند او سریلانکا هیوادونو ترمنځ په یوه ټیسټ لوبه کې

د لوبغاړو لخوا هم دغه سیستم وکارول شو. دغه سیستم په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې د ۲۰۱۱م زیږدیز کال په لومړي میاشت او په نړیوالو شل اوریزو سیالیو کې د ۲۰۱۷م زیږدیز کال په اکتوبر مباشت کې وکارول شو.

د پریکړو د بیا کتنې سیستم ځینې عناصر لري چې د په مرسته یې دغه سیستم چلیږي او د پریکړو په اثباتولو کې بنسټیز رول لري. دغه عناصرو کې د سلو موشن ریپلې (Slow-Motion Replays)، هاټ سپاټ (Hot-spot) یا د انفرا ریډ په نوم کېمرې (Infra-Red Cameras)، الترا ایج (Ultra-Edge) یا د ایج ځرګندونکی (Snicko meter) او د بال ټریکینګ (Ball Tracking) په نوم بل عنصر شامل دی چې هاک آی یا د باز سترګه (Hawk-Eye)، ایګل آی یا د بانبه سترګه (Eagle-Eye) او ویرچوَل آی یا خارګري سترګې (Virtual Eye) په نوم هم یادیږي، د پریکړو د بیا کتنې په سیستم کې کارول کیږي.

۱: سلو موشن ریپلې – د دغه سیستم په مرسته دریم لوبغاړ د بیا ځلې کتلو لپاره لېږدول شوې صحنه په سوکه او آرامه توګه یا هم د سلو موشن په حالت کې له هره اړخه او په لوبغالي کې د موجودې هرې کامرې له لارې ګوري ترڅو ځان پوره ډاډمن کړي چې بال په بېټ لګېدلی دی که نه.

۲: هاټ سپاټ یا انفرا ریډ کېمرې – ادا د پرمختللو کامرو هغه سیستم دی چې په مرسته یې دریم لوبغاړ ادا معلوموي چې بال له بېټ سره لګېدلې دی که نه؛ دغه سیستم کې بیټسمین د بال د لوبولو وخت کې په تور او خاکستري رنګ کې ښکاریږي چې په بېټ یا پیډ د بال د لګېدلو نښه پکې په سپین رنګ کې ځرګندیږي او لوبغاړ ته په آسانۍ سره ښکاري چې بال په بېټ او پیډ لګېدلی دی که نه. په ۲۰۱۲م زیږدیز کال کې یاد سیستم نه نوري پرمختللې کامرې هم ور اضافه شوې چې په مرسته یې دغه سیستم نور هم اغېزمن شو.

۳: الترا ایج یا سنیکو میټر – دغه سیستم د یوه داسې مایروفون په مرسته، چې د خط په شکل ښودل کیږي، کوچنې او نازک غږونه را اخلي او لوبغاړ ته ادا ښیي چې بال په بېټ یا پیډ لګېدلی دی که نه؛ دغه سیستم په ۲۰۱۳م زیږدیز کال کې د (Real Time Snicko) په نوم یوه بل سیستم باندې بدل شو چې مؤثریت یې ورسره لا زیات شو.

۴: بال ټریکینګ یا د بال څارنه – دغه سیستم چې د باز د سترګې او یا د «څارګري سترګې» په نوم هم یادیږي، هغه ټکنالوژي ده چې د بال د لوبډو

او حرکت لوری معلوموي. د دغه سیستم په مرسته ادا معلومیږي چې یو بال په کوم ځای کې پیچ کیږي او بیا په کوم لوري حرکت کوي. د دې ترڅنګ دغه سیستم ادا هم معلوموي چې که بال د بیټسمین په ځان نه وای لګېدلی نو په وېکټ به لګېدلی وای که نه. د دغه سیستم په مرسته دریم لوبغاړ د ایل بي ډبلیو پریکړو بیا ځلې کتنه کوي چې د بیا ځلې کتلو غوښتنه یې د لوبغاړو لخوا کیږي. ایل بي ډبلیو چې د اوټېډو یو ډول دی، هغه حالت دی چې پکې په عمومي توګه د لوبغاړو لخوا ګواښل کیږي او په لوبغالي کې د شته لوبغاړ په مرسته یې له دریم لوبغاړ څخه د بیا ځلې کتلو غوښتنه کوي. دریم لوبغاړ بیا پورته ذکر شوي ټول عناصر کاروي ترڅو د لوبغاړو په حق کې یوه سالمه پریکړه وکړي. دریم لوبغاړ د سلو موشن ریپلې په مټ دا معلوموي چې آیا بالر یا توپ اچونکي روغ یا قانوني بال کړی دی که نه؟ د هاټ سپاټ یا انفرا ریډ کېمرو په مرسته دا معلوموي چې بال خو به د توپ وهونکي له پیډ وړاندې د هغه په بېټ





نه وي لګېدلی؟ د بال ټرېکینګ په مرسته د بال د لګېدو یا پیچ کېدو ساحه (Pitching)، د بیټسمین په بدن با پیډونو د بال د لګېدو کرښه (Impact)او دا چې بال په وېکټو لګېږي که نه(Hitting) ، معلومیږي. په دې اړه د کرکټ له قوانینو څخه پنځه دېرشمه ماده چې د ایل بي ډبلیو یا (Leg Before Wicket) په اړه راغلې ده، را اخلو. دا ماده په ډاګه کوي چې: «سټرایکر یا هغه توپ وهونکی چې بال ته مخامخ ولاړ وي، هغه وخت ایل بي ډبلیو اوټیږي کله چې د بال د لوبولو هڅه وکړي خو په خپل بدن، لباس یا لوازمو د یوه داسي روغ بال مخه ونیسي چې ښایي په وېکټو لګېدلی وای، په داسي حال کې چې همدغه بال د بیټسمین په بدن، لباس یا لوازمو له لګېدو وړاندې د بیټسمین په بېټ او یا هغه ګلفز (دستکش) چې بېټ یې پرې نیولی وي، نه وي لګېدلی(Hitting) . د دې ترڅنګ بال باید د وېکټو په مستقیم خط او یا هم د سټرایکر بیټسمین په آف سایډ کې پیچ شوی وي او یا هم له پیچ کېدلو وړاندې په "فول ټاس" توګه د بیټسمین به بدن، لباس یا لوازمو ولګیږي (Pitch-ing). همدارنګه د بیټسمین په بدن یا لوازمو باندې د بال د لګېدو ځای یا نښه هم باید وېکټو ته په مستقیم خط کې برابره وي (Impact).»

دغه سیسټم د کېچونو په معلومولو کې هم کارول کیږي. ځینې وختونه د لوبڅارانو لپاره دا ډېره سخته وي چې معلومه کړي بال له بیټ سره لګېدلی دی که نه؟ د داسي سختو او نازکو کېچونو د معلومولو لپاره لوبڅاران د دې آر ایس ټول عناصر کاروي ترڅو د همداسي یوې صحنې په اړه روغه او سالمه پرېکړه وکړي. د دې لپاره چې دریم لوبڅار وپوهیږي چې آیا بیټسمین بال په بېټ وهلی دی که نه؛ له الټرا ایج او هاټ سپاټ څخه کار اخلي.

په ټوله کې د ټیسټ کرکټ په یوه پاڼۍ کې دواړه لوبډلې ۳-۳ ځلې د پرېکړو د بیا ځلې کتلو حق لري، په نړیوالو یوورځنیو سیالیو کې دغه شمېر د دواړو لوبډلو لپاره ۲-۲ دی او په نړیوالو شل اوریزو سیالیو کې بیا یوازې یو ځلې هره لوبډله کولای شي چې د لوبڅار پرېکړه وننګوي او د بیا ځلې کتلو لپاره یې دریم لوبڅار ته ولېږدوي. له بلې خوا د یوې لوبې په جریان کې لوبغاړي کولای شي بې شمېره ځله د پرېکړو د بیا کتنې غوښتنه وکړي، خو په شرط چې تېره شوې هره غوښتنه کې یې ادعا سمه وخېږي. په بل عبارت، که لوبغاړي په حقه وي نو کولای شي هر څو ځله چې وغواړي، له لوبڅار څخه د پرېکړو د بیا کتنې غوښتنه وکړي؛ خو که د پورته یادو شمېرو په اندازه ناکامېږي یا یې د پرېکړو د بیا ځلې کتلو غوښتنه په زیان تمامیږي، نو له هغه وروسته نشي کولای چې د لوبې په پاتې برخه کې دغه غوښتنه وکړي.

د کرکټ لوبغالی او ویشتن ځای

محمد جعفر هاند

د کرکټ مینه والو به په بېلابېلو لوبغالو او پیچونو یا ویشتن ځایونو کې د کرکټ لوبې لیدلې وي. ټول لوبغالي او ټول ویشتن ځایونه او د کرکټ ټولې لوبې یو ډول نه دي. د کرکټ لرغونی لوبغالی په انګلېنډ کې د لارډز کرکټ لوبغالی دی او تر ټولو ستر میدان په استرالیا کې د میلبورن کرکټ ګراونډ (ام سي جي) دی. د لارډز کرکټ لوبغالی د ۱۷۸۷ او ۱۸۱۴ میلادي کلونو پر مهال جوړ شوی او رغول شوی دی. دا په کرکټ کې تر ټولو لرغونی لوبغالی بلل کیږي چې د انګلېنډ د کرکټ یو پخواني لوبغاړي توماز لارډز په نوم اباد دی او نوموړی یې بنسټګر هم دی. دا لوبغالی د مېریلیبورن کرکټ کلب (ام سي سي) لوبغالی دی. په دې لوبغالي کې چې کومو لوبغاړو سلیزې جوړې کړې وي، د هغوی نوم هلته ثبتیږي. دا لوبغالی د شا و خوا ۳۰زره ننداره چیانو ظرفیت لري. د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې هم د خیریه ټولنې په یوې لوبه کې دلته لوبه ترسره کړې ده. د استرالیا میلبورن کرکټ ګراونډ (ام سي جي) په نړۍ کې بیا لسم لوی لوبغالی بلل کیږي او په آسترالیا کې تر ټولو ستر او مشهور لوبغالی دی.

په دغه میدان یا لوبغالي کې تر دې دمه د نړۍ د بل هر لوبغالي په مقایسه د څراغونو لوړې او دنګې پایې لګول شوي دي چې د شپې د لوبو پر مهال لوبغالی رڼا کړي. د میلبورن کرکټ ګراونډ په ۱۸۵۳م کال کې جوړ شوی دی. دا لوبغالی د شا و خوا ۱۰۰زره ننداره چیانو ځای لري. د افغانستان کرکټ د ملي لوبډلې لوبغاړي راشد خان په ۲۰۲۱م کال کې په دغه لوبغالي کې د بګ باش لوبې وکړې. په هند او ځینو نورو هېوادونو کې د کرکټ بېلابېل لوبغالي او ویشتن ځایونه شته. له دویمې نړیوالې جګړې وروسته چې د کرکټ یو ورځنۍ لوبې او بیا په یووېشتمې پېړۍ کې شل اوریزې لوبې پیل شوې، ورسره په نړیواله کچه د کرکټ لوبغالي او ویشتن ځایونه هم زیات او بنې یې بدلې شوې.

د لوبغالي اندازه

د کرکټ د نړیوالو لوبغالو ټاکلې اندازه د لوبو بڼې او هېواد ته په کتو بدله وي او یوه ټاکلې اندازه نه لري. د کرکټ میدان تر ډېره حلقوي بڼه لري. د کرکټ د نړیوالې شورا د معیار په اساس د لوبغالي له یو اړخ څخه تر بل اړخ پورې تر ټولو زیاته اندازه باید ۱۳۷,۱۶ مېټره وي. له پیچ یا ویشتن ځای څخه مستقیماً د میدان اخري حد (باونډرۍ) پورې اندازه له ۵۹,۴۳ څخه نیولې تر ۶۰ مېټره پورې وي. خو دا اندازه زیاته او کمه هم کېدلی شي. البته په ځینو لوبو او هېوادونو کې د شل اوریزو او یو ورځنیو لوبو د میدان (باونډرۍ) اندازه کمه وي، چې لوبې خوندورې شي؛ خو په ټیسټ لوبو کې بیا برعکس وي.

ویشتن ځای او ډولونه یې

ویشتن ځای د کرکټ د لوبغالي یا میدان په منځ کې هغه ځای ته وایي چې په دواړو خواوو کې یې درې ویکټې درول شوې وي.. د پیچ یا ویشتن ځای د اوږدوالي معیاري اندازه شا و خوا ۲۰,۱۱ مېټره او یا ۲۲ یارده یا ګزه وي او پلنوالی یې لس فوټه یا ۳,۵ متره وي. د ویشتن ځای په دواړو خواوو کې د درول

شویو دریو ویکټو لوړوالی ۷۱,۱ سانتي مېتره وي. د همدغو دریو لرګیو د پاسه دوه واړه لرګي اېښودل شوي وي، چې بیلز بلل کېږي.
په عمومي ډول په کرکټ کې درې ډوله ویشتن ځایونه شته:
۱. مړ یا ډېډ ویشتن ځای
۲. ډستي یا خاورین ویشتن ځای
۳. زرغون ویشتن ځای

مړ یا ډېډ ویشتن ځای:
معمولاً هغو پیچونو او ویشتن ځایونو ته وایي چې واښه نه لري او هوار وي. دا ډول ویشتن ځایونه معمولاً د منډه جوړوونکو لپاره ښه وي او بالران یا توپ اچوونکي په کې هومره نه ځلېږي. د هند په لویه وچه کې دا ډول ویشتن ځایونه زیات شته. شل اوریزې او پنځوس اوریزې لوبې تر ډېره پر همدا ډول ویشتن ځایونو ترسره کېږي.

ډستي یا خاورین ویشتن ځای:
خاورین پیچونه معمولاً له واښو پاک وي او سپن (ورو) توپ اچوونکو ته ډېر مساعد وي؛ خو منډه جوړوونکو ته هم دومره ګران نه وي. دا ډول ویشتن ځایونه په اسیا او د لویو وچو په هېوادونو کې ډېر شته.

زرغون ویشتن ځای:
پر دا ډول ویشتن ځایونو واښه شنه وي، د تېزو بالرانو بال په کې سوینګ او باونس (جګیږي) کېږي چې منډه جوړوونکو ته لوی سرخوږی جوړوي. دا ډول پیچونه د ورو توپ اچوونکو لپاره هم ډېر مساعد نه وي. واښه لرونکي ویشتن ځایونه په لوېدیځو هېوادونو کې ډېر وي.

MUJEEB
88
ACC
Alokozay
AFGHANISTA

RANA Technologies Enterprises is a dynamic and leading ISP/ICT and BPO Company in Afghanistan, providing high-quality broadband Internet services, ICT "Turn-key" solutions, and BPO services since 2005



Services

Internet Service | IT Hospital | Malomaat 411 | RANA BPO

For more information call
0798 85 85 85

RANA TECHNOLOGIES

Adjacent to shaheed shrine, Shahr-e-Naw, Kabul, Afghanistan
www.ranatech.com info@ranatech.com

رحمن الله ګربز

هغه ځوان چې په لومړی نړيوالې يو ورځنی لوبه کې يې لومړی سليزه ووهله.

دا ځل مو د ګېني لوستونکو ته له هغه ځوان سره مرکه کړې چې په ډېر کم وخت کې يې غوره لوبې ترسره کړې او د کرکټ مينوالو ته يې ښه زيري ورکړل، رحمن الله ګربز هغه ځوان چې د ډېرو ستونزو او هڅو وروسته په دې وتوانېد چې د ملي لوبډلې لوبغاړی شي. د نوموړي په خبره له ماشومتوب څخه يې له کرکټ سره مينه وه، سره له دې چې د کورنی غړو يې له کرکټ سره مخالفت درلود خو بيا هم دغه ځوان کوښښ وکړ او د خپلې کورنی په ګډون يې نړيوالو ته خپله وړتيا وښوده.

د ګربز دغه مقام ته د رسيدو لپاره خوب له سترګو تښتېدلی و کوم مقام کې چې اوس دی. نوموړي دا سفر کله او له کومه ولايته پيل کړ؟ کوم خنډونه يې ليدلي او څه ليدلوری لري دا او نور ډېر څه په دې مرکه کې لوستلی شئ.

پوښتنه: ستړی مه شې، دا چې پرلپسې او نه ستړې کېدونکې سيالۍ مو ترسره کړې نو بيا هم وايم چې ستړې مه شئ! که څه هم په لږ وخت کې مو د نوم سره ډېرخلک بلد شول؛ خو که بيا هم د مرکې په پيل کې په بشپړ ډول ځان د کرکټ بورډ مجلې لوستونکو ته را وپېژنې مهرباني به مو وي؟

ځواب: تاسو هم ستړي مه شئ، رحمن الله ګربز يم، په اصل کې د خوست ولايت د ګربزو ولسوالی اوسيدونکی يم.

پوښتنه: ښه ډېر ښه، که راته وواييست چې څنګه مو کرکټ سره مينه پيدا شوه او له کومه ځايه مو پيل کړ؟

ځواب: ډېره مننه ښه پوښتنه مو وپوښتله، کرکټ سره مې د ماشوموالي څخه ډيره مينه وه، تل به مې کوښښ کولو چې ښه کرکټ وکړم او کله به چې ما په تلويزيوني او راډيو يې چينلونو باندې خپل مخکښ او تکړه لوبغاړي ليدل نو ډير به هڅيدم او تل به مې کوښښ کولو چې د همدوی په شان لوبه ترسره کړم.

پوښتنه: ښه ډېرښه، ملي لوبډلې ته مو څنګه لاره ومونده؟

ځواب: ملي لوبډلې ته خو چې کله هر لوبغاړی ځې باید ډېر زيار او کوښښ وکړي ترڅو ملي لوبډلې ته ځان ورسوي، زما خو دا فکر ته هم نه راتلل چې زه به يوه ورځ د افغانستان ملي لوبډلې ته ځم او ملي لوبغاړی به جوړيږم، خو تل مې زړه کې هيله وه چې د ډيرو کوښښونو او زيار وروسته الحمدالله خپلې هيلې ته ورسېدلم.

پوښتنه: تاسو ته لا بريا غواړو، د کرکټ په بهرنيو او کورنيو لوبغاړو کې که راته د خوښې لوبغاړي وښاياست؟

ځواب: په کورنی لوبډله کې مې په خپلو ملي اتلانو کې مخکې د نوروز منګل لوبې خوښيدلې او مينوال يې وم خو اوس مې محمد نبي عيسی خيل د خوښې لوبغاړی دی چې له دوی څخه زه ډېر زيات متاثر يم او تل ما په لوبو کې هڅوي، په بهرنيو لوبغاړو کې مې بيا اپېډونډس خوښيږي.

پوښتنه: ډېره ښه ده، که وواياست چې يو غوره لوبغاړی کومې ځانګړنې بايد ولري؟

ځواب: ښه پوښتنه ده، زما په اند يو غوره لوبغاړی بايد تر ټولو مخکې ډېر زيار وباسي هغه لوبغاړي چې زيار نه وباسي نو ملي لوبډله کې هم نشي لوبيدلی، په دوهم قدم کې بايد يو لوبغاړی يا ورزش کار ښه او غوره اخلاق

ولري، کرکټ د حوصلې لوبه ده؛ نو حوصله هم ډېره مهمه ده او د کرکټ ټول اداب باید په نظر کې ونیسي.

پوښتنه: مننه، تر دې دمه مو په خومره بهرنیو لیګونو کې ګډون کړی؟

ځواب: تر دې دمه په څو لیګونو کې لوبیدلی یم، لکه د بنګله دیش لیګ، سریلانکا او په ویسټ انډیز لیګ کې مې هم نوم راغلی و؛ خو د کرونا ناروغۍ له امله ستونزه رامنځته شوه، ورسره اوس د ابو ظبي ټي ټین لیګ په راتلونکي کې هم شاید ډیرو نورو لیګونو کې ولوبیږم.

پوښتنه: ډېره ښه ده، کله مو داسې تصور کړی و چې یوه ورځ به زه داسې ګړبز یم لکه اوس چې په کوم ځای کې قرار لرې؟

ځواب: ډېره مننه، ما مخکې هم تاسو ته یاده کړه چې ما دا فکر هیڅ کله نه کولو چې د ملي لوبډلې لوبغاړی به جوړیږم او ملي لوبډلې ته به ګټوره لوبه کوم، خو تل مې هیله لرلې او هیلې ته د رسیدو لپاره مې ډیر زیار او کوښښ کړی تر څو ملي لوبډلې ته ځان ورسوم، او زما نظر ټولو ځوانانو ته دا دی چې که غواړي خپلو هیلو ته ورسیږي، کوښښ دې وکړي په زیار ایستلو حتمي خپلو هیلو ته رسیږي.

پوښتنه: راتلونکې کې کوم پلانونه په نظر کې لرې؟

ځواب: راتلونکي ته مې موخې دا دي چې د خپل وطن لپاره غوره لوبې وکړم او نړیوالو ته دا پیغام ورکړم چې د ملي لوبډلې سره ګړبز هم یوځای شوی او د نړیوالو پر وړاندې به د تل په شان غوره لوبې وکړو ان شاالله.

پوښتنه: ان شاالله، د کورنۍ په غړو کې درته ډېر څوک زړه ته نږدې دی که یو یې وښایاست؟

ځواب: کورنۍ کې خو ټول راته زړه ته نږدې دي او هر یو کس مې زړه کې ځان ته ځای لري، مور، پلار، ورونه، خویندې، وریرونه ټول راته ډیر ګران دي؛ خو له ما سره یې چې ډېره مرسته کړې هغه زما ورونه دي محمد قدیر او افسر ولي، کله چې به کورنۍ کې چا له ما سره د کرکټ اړوند مخالفت ښودلو نو دوی تل زما ملاتړ کړی او د دوی په هڅو نن زه دې ځای ته رسېدلی یم چې زه ترې نه په ځانګړې ډول مننه کوم.

پوښتنه: د کرکټ په ډګر کې که یوه جالبه خاطره له موږ سره شریکه کړې؟

ځواب: د کرکټ ژوند ټول خاطرې، خاطرې دی او موږ د کرکټ په ډګر کې تل له ښو خاطرو سره ډیر مخ شوي یو، خو زه به خپله یوه خاطره ووایم هغه دا چې زه کله د شپاړلس کلنو لوبډلې ته راغلم؛ نو د کرکټ چې کوم وسایل دي د هغوی په اغوستلو نه پوهیدم او ما پیدونه او نور وسایل چپه اغوستي و، کله چې زما یو ملګری راغی، هغه وویل چې ولې توپ وهنې ته نه ورځې؛ نو ما ژر ورته وویل چې ته راشه او د کرکټ وسایلو

په اغوستلو مې پوه کړه، چې ملګري ته مې همدا خبره ډېره خندونکې وه او ډېر زیات یې وخندل؛ نو د کرکټ په ډګر کې ماته په زړه پورې خاطره همدا ده.

پوښتنه: افغانستان کرکټ ته په کتو څنګه یې ارزیابي کوئ؟
ځواب: د افغانستان کرکټ ډېر ښه روان دی او ټولې نړۍ ته معلومات کیږي چې د افغانستان کرکټ په څومره کم وخت کې څومره لوړ مقام ته راورسیدو، ان شاالله چې په راتلونکي کې به نور هم د کرکټ ډګر ته ځوانان راځي او د افغانستان کرکټ به نور هم پرمختګ کوي او د افغانستان کرکټ لوبډله به یوه ورځ ډېره قوي لوبډله وي.

پوښتنه: کله چې تاسې په یو بهرني لیګ کې لوبیږئ او د خپلو هیوادوالو مینه او هڅونه ګورئ ستاسو په لوبه څومره تاثیر کوي؟
ځواب: کله چې مونږ په بهرنیو لیګونو کې لوبیږو او دخپلوهیوادوالو مینه او د دوی دعا ګانې ګورو نو مونږ ډېر زیات خوشاله کیږو؛ ځکه چې د خپلو هیوادوالو دعا ګانې او مینه چې مونږ سره وي، نو په هر ځای کې به بریالي و او دهمدوی د دعا ګانو او مینې برکت دی چې نن مونږ دغه ځای ته رسېدلې یو.

پوښتنه: خوړو کې مو د خوښې خواړه کوم خواړه دي؟
ځواب: خوړو کې زما هر ډول خواړه چې پاخه وي خوښیږي مې خو لوبغاړي باید

په خوړو کې ډېر احتیاط وکړي ځکه زمونږ د رژیم یا پرهیز مسئله ده؛ نو د همدې لپاره مونږ هر ډول خواړه نشو خوړلی.

پوښتنه: موسیقي کله اورې او که نه او که اورې یې د خوښې سندرغاړی مو څوک دی؟
ځواب: ډېره مننه، موسیقي خو هر څوک اوري او زه هم کله چې اوزګار وم د هاورن پاچا سندرې او د جاوید امیرخیل سندرې ډېرې اورم او د دوی دواړو سندرې مې ډېرې زیاتې خوښیږي.

پوښتنه: ورستیو کې خپلو هېواد والوته کوم پیغام لرې او غوښتنې مو ترې څه دي؟
ځواب: په وروستیو کې لومړی خو له تاسو ډېره زیاته مننه په دې چې ماسره مو مرکه برابره کړه او خدای دې وکړي چې ستاسو او د کرکټ مینوالو ټولې پوښتنې ځواب شوې وي، په دوهم قدم کې زما پیغام ټولو هیوادوالو ته دا دی چې په خپلو ماشومانو باندې زده کړې وکړي او د زده کړو څنګ کې هر ورزش چې د دوی خوښیږي ترسره دې کړي؛ ترڅو دوی له ماشوموالي څخه چمتو او تکړه شي او د کرکټ مینوالو ته مې دا پیغام دی چې کله ملي لوبډله کومه لوبه نه ګټي؛ نو هغه سخت حالت کې د خپل ملي لوبډلې سره یو ځای شئ او راتلونکو لوبو کې ملي لوبډلې ته دعاګانې وکړي او مونږ به پوره کوښښ وکړو، تر څو هیواد ته ویاړونه راوړو.

د افغانستان کرکټ لپاره د چټک توپ اچوونکې مونده

تر دې دمه مو د افغانستان په کچه هغه پیاوړي او چټک توپ اچوونکي ۱۲ لوبغاړي تر لاسه کړي چې د توپ اچونې سرعت یې ۱۳۳ پورې رسیږي. د چټک توپ اچونکو د موندنې لړۍ په ۲۰۱۸ کال د افغانستان د کرکټ بورډ په همغږۍ ټولو زونونو کې رامنځ ته شوه ، چې دغه لړۍ تر دریم پړاو پورې وغزېدله، د پلټنې ترپایه شپاړس غوره تېز توپ اچوونکي مو ترې تر لاسه کړل، راتلونکې پلان مو دا درلود چې دغه شپاړس غوره لوبغاړي به د تمریناتو لپاره بهر هېواد ته لېږو، خو له بده مرغه په رهبرۍ کې ځېنې تغیرات راولاړ شول چې دغه پروسه یې تریو وخت وځنډوله، خو له نېکه مرغه یاد لوبغاړي له پامه

ونه غورځېدل په کورنې کرکټ یعنې په شپږېزه په خپله وړتیا مو ولوبول، او ورسره، ورسره ښه ثابت شول، د بېلګې په ډول یې یو څو لوبغاړي د یادونې وړ دي ، لکه فرهاد مومند، زاهد شېرزاد د ننګرهار ، بلال د کونړ او حسیب د خوست څخه و. دا هغه تېز توپو اچونکې و چې د چټک توپ اچونکو په موندنه کې مو تر لاسه کړي و، په ۲۰۲۰ کال کې مو هوډ وکړ چې بیا ځلي یوه بله د چټک توپ اچونکو د موندنې لړۍ پرمخ یوسو، خو داځل د تېرې پروسې په توپیر سره مو لړۍ پر مخ یوړه ، هغه دا و چې موږ خپله زونونو ته نه تلو د زونوو نماینده ګانو ته مو سپارښتنه وکړه چې تاسې د ولایاتو په کچه موږ ته پنځه غوره تېز توپ اچونکي لوبغاړي راوپېژنئ تر څو یې موږ د پخوانیو هغو شپاړسو لوبغاړو په ډله کې شامل کړو او ازموینه ترې واخلو، نو همدا و چې موږ خپله زونونو ته ورغلو او هلته مو ترې ازموینه واخېستله، داچې زموږ هدف د چټک توپ اچونکو موندل و نو له دغو ټولو مو چاڼ ووېست، او ۱۲ پیاوړي چټک توپ اچونکي لوبغاړي مو ترې تر ګوتو کړل ، دا هغه لوبغاړي و چې د توپ اچولو چټکتیا یې تر ۱۳۲ پورې رسېده، په ۲۰۲۱ کال کې د جنورۍ په ۱۷مه ددوی لپاره موږ ۳۰ ورځنی کمپ په نظر کې نیولي ، چې دې کمپ کې به د دولت احمدزي په روزنه د دوی د توپ اچونې سرعت په ډېروالي کې ورڅخه کار اخېستل کېږي، د کمپ په پای کې به یو ځل بیا موږ ګورو او دغه ازموینه به ترې په سپین غر زون کې اخېستل کېږي، چې ددوی د توپ اچونې په تېزوالي کې څومره ډېربښت راغلی.

بیت کرکت

بیت کرکت بخش ویژه از وسایل کریکت را تشکیل میدهد. که از طرف توپزن (بیتسمین) برای ضرب توپ به کار می آید. بیت کرکت صرفا از چوب ساخته و معمولا جنس آن مجنون بید سفید است. بیت از تیغه ،شانه و دسته تشکیل شده است. تیغه نیز به سه قسمت صورت, پشت و لبه تقسیم می‌شود. میانه پشت بت حالت بر آمده داشته تا اینکه نیروبیشتری هنگام ضربه زدن به توپ وارد شود. جایکه لبه ها به دسته می پیوندند شانه را تشکیل میدهند. پایین بیت را نیز پنجه تب میگوند ، دسته بیت بوسیله یک جناغ با تیغه جفت و این کار برای انعطاف پذیری بیشتر انجام میشود. به طور عمومی بیت از چوب خاص ساخته میشود که با گزشت زمان شکل اش تغیر کرده زیباتر گردیده است. طول بیت ۳۸ انچ مي باشد که ۹۶۵ ملی متر میشود همچنان ضخامت بیت ۴.۲۵ انچ مي باشد که با ۱۰۸ ملی متر برابر است. گفته میشود که برای اولین بار در سال ۱۶۲۴ از بیت کار گرفته شده، اما در سال ۱۹۷۹ میلادی فیصله بر این شد که بیت فقط هموار و کم مایل باشد. روی بیت هموار و کم مایل می باشد، و پشت اش کم میلان دارد و میان اش بسیار قوی می باشد، که در اصطلاح کرکت (میدل) نامیده میشود، اگر به همین حصه بیت توپ زده شود به اسانی از میدان خارج می‌شود. بیت از چوب ویژه ساخته می‌شود که شاید ساختنش از دیگر چوب ها ممکن نباشد. حصه دیگر مشهور بیت دسته آن است که هر بیتسمین یا توپزن مطابق میل خود این بخش را می سازد، و کوشش میکند که با دستش سازگار باشد. دسته بیت را در تار می پیچد و بعداً به آن یک پوش رابری میدهند تا به اسانی مورد استفاده گردد. در اوایل تمام بیت یکجا از یک بیت ساخته می شد، ما (برونال) که محصل پوهنتون بود و در انگلستان تونل ریل سیوین را نیز ساخته است نظر داد که دسته و تنه بیت جدا، جدا ساخته شود، و بعداً هردوی آن یکجا گردد. یک نمونه خوب بیت کنونی در سال ۱۷۲۹ ساخته شد که در میدان (اوول) انگلستان وجود دارد. بیت ماده پنجم در قوانین کرکت است که اندازه اش قبلاً ذکر شده است و وزن اوسط اش ۱ اعشاریه ۴ کیلوگرام می‌باشد، اما وزن بیت معیار نداشت و هر بیتسمین به میل خود برایش بیت می‌سازد.

قرعـــــــــه (شـــیر و خـط)

قرعه برای نخستین بار در کرکت در سال ۱۷۴۴ میلادی انداخته شد و اکنون به یک حصه مهم بازی کرکت تبدیل شده است. قرعه نیم ساعت قبل از اغاز بازی انداخته میشود و بر اساس قرعه نوبت توپزنی یا توپ اندازی مشخص می‌شود. گریم سمیت کپتان تیم افریقای جنوبی ریکارد بیشترین برد قرعه در بازی های تست را دارد، وی از سال ۲۰۰۳ الی سال ۲۰۱۴میلادی ۱۰۹ بار قرعه (شیر خط) انداخته که از آن میان ٦۰ بار برنده شده است. همچنان ریکی پاینتینگ در چوکات بازی های یکروزه بیشترین پیروزی در انداخته قرعه داشته است، وی ۲۲۰ بار قرعه بازی انداخته است و از این میان توانسته ۱۲۴ بار برنده شود. اگر تمام فارمت های بازی کرکت در نظر گرفته شود، ریکی پاینتینگ ریکار برنده شدن بیشترین قرعه را به نام خود ثبت کرده است که در تمام فارمت ها ۳۲۷ بار قرعه انداخته است که از این میان ۱۷۰ بار پیروز

شده است. در حالیکه ستیفن فلیمینگ کپتان تیم نیوزیلند ریکار بیشترین باخت قرعه بازی را به نام خود ثبت کرده است.

سکه‌ی که برای انداختن قرعه بازی استفاده میشود عموماً از نکل و فلز مصری ساخته می‌شود، اما گاه‌گاهی از سکه های خاص نیز در انداختن قرعه بازی کرکت استفاده می‌شود مثلآ: بی سی سی آی(B-CCI) به افتخار ۱۴٦مین سالروز تولد مهاتما گاندی سکه‌ی را حک کرد که در یک رخ آن عکس مهاتما گاندی یکی از چهره های مشهور روش عدم خشونت و در رخ دیگر آن تصویر نیلسن منديلا فعال ديگر همين جنبش در افريقاي جنوبي ، حک شده بود و اکنون هرباری که بازی بین هند و افریقای جنوبی برگزار شود قرعه بازي با همين سكه انداخته می‌شود. همچنان در سال ۲۰۱۳ یک سکه خاص به مناسبت بازنشسته شدن سچن تندولکر از بازی های تست، ساخته شد که این سکه از ده گرام طلای اتحادیه بنگال ساخته شده بود که در یک رخ این سکه عکس سچن و نوشته بازی دوصدم وی (SRT 200) و در رخ دوم آن لوگوی ام سی ای حک شده بود.

ځوانو لوبغاړو ته د لوبو فرصتونه

د افغانستان کرکټ بورډ د کرکټ ودې او پرمختګ په موخه د کال په جریان کې د بېلابېلو کچو کرکټ لوبې ترسره کوي، چې له همدې لارې ځوان لوبغاړي او نوي استعدادونه رابرسېره کیږي او ان د افغانستان تر ملي لوبډلو د لوبېدو زمنیه ورته برابریږي.
د افغانستان کرکټ بورډ د یوه لوبغاړي د ودې او مخکې تګ لپاره د اکیډېمیو یا روزنځایونو، ښوونځیو، ولایتي دریمه درجه، ولایتي دویمه درجه، ولایتي لومړۍ درجه، د زونونو په کچه پنځوس اوریزه، د زونونو په کچه شل اوریزې، د زونونو په کچه څلور ورځنۍ، د زونونو په کچه دوه ورځنۍ، د زونونو په کچه شپږیزه لیګ او داسې نورې لوبې ترسره کوي او ددې ټولو ترڅنګ د معلولینو لپاره هم لوبې ترسره کیږي.
په یادو لوبو کې لوبغاړو ته پوره فرصت ورکول کیږي چې د خپل
د ا ستعد ا

ښودلو ترڅنګ په خپل تخنیک، تکتیک، فزیکي وړتیا او نورو وړتیاو کار وکړي.
د ویلو ده، چې په دې لوبو کې لوبېدل د لوبغاړو لپاره د اقتصادي پلوه هم ګټه کوي او په اوسط شکل باندې لوبغاړي له دې لوبو له ترلاسه شوي عاید څخه خپلې ورځنۍ چارې مخې ته بیولی شي، هېره دې نه وي چې غوره کورنیو لوبغاړو د هغو د لوبو د پایلو په اساس میاشتنی معاش هم ورکول کیږي، ترڅو د دوی استعداد ضایع نشي او د کورنۍ له لوري پرې د کار کولو فشار رانه شي.
افغانستان د هغوهېوادونو له ډلې شمېرل کیږي چې کورنی کرکټ یې خورا په چټکۍ او ښه شکل سره پر مخ روان دی او دا لړۍ به نوره هم وده کوي.
په دې وروستیو کې به مینوالو ته هم په ډاګه شوې وي چې نوي ځوانان د افغانستان په ملي لوبډلو کې د هېواد استازیتوب کوي

او له همدې امله د
ځوانانو مینه او علاقه هم
له کرکټ لوبې سره ډېره شوې ده.
د افغانستان کرکټ بورډ د افغانستان په ټولو ولایتونو کې د کرکټ استازي لري؛ تر څو هغوی هلته د ځوان نسل لپاره د ښه کرکټ زمینه برابره کړي، په دې برخه کې کرکټ بورډ د ځایي چارواکو، اوسېدونکو او سوادګرو هیله کوي چې د دوی له استازو سره د کرکټ په وده کې خپله ونډه و نه سپموي، تر څو د هېواد کرکټ نور هم په هېواد دننه او نړیواله کچه پرمختګ وکړي او په نړیوالو لوبغالو کې د افغانستان نوم او درې رنګه ملي بېرغ نور هم ښه وځلېږي.
د ۲۰۲۱ م کال د پیل کېدو سره سم د افغانستان کرکټ بورډ له لورې د شلو ولایتونو ترمنځ د وزیر محمد اکبر خان دریمه درجه ولایتي لوبې ترسره شوې، دمګړۍ د ۱٦ غوره ولایتونو ترمنځ د دویمې درجې ولایتي لوبې دوام لري او له دې

وروسته به د پلان
په اساس نورې لوبې هم د
روان کال په لړ کې ترسره کېږي.
د کرکټ لوبغاړو لپاره یوه اړینه یادونه هم کؤ چې دوی کولی شي د معلوماتو ترلاسه کولو او په رسمي سیالیو کې د ونډې اخیستو په موخه د هېواد په ګوټ، ګوټ کې د کرکټ بورډ له ولایتي استازو سره په اړیکه کې شي او یا هم له نږدې ورسره وګوري؛ تر څو دوی ته لازمې مشورې ورکړل شي او د کرکټ برخه کې ورته زمینه برابره شي.
اوسمهال په افغانستان کې په زرګونو ځوانانو کرکټ لوبې ته را مخه کړې او په رسمي ډول ۱۳۵۰ ځوانان د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ په چوکاټ کې بوخت دي او په همدې سره د هېواد په کچه کرکټ د لومړۍ درجه لوبې مقام خپل کړی.

د بدن ښکلا کلب مسؤل سره مرکه

کلب کې د مسؤل په ګډون نور روزونکي

دا ځل مو بیا هم د تېر په څېر د افغان کرکټ بورډ مجلې لوستونکو ته د افغانستان کرکټ بورډ اداري د بدن ښکلا د کلب مسؤل ګل رحیم خیرخواه توتاخېل سره ځانګړې مرکه کړې، چې موږ سره به د خپلو فعالیتونو،ورځنی روزنو، د خپلو موخو او نورو اړوندو چارو په اړه معلومات شریکوي.

کلب کې د مسؤل په ګډون نور روزونکي

د کلب مسول ګل رحیم توتاخېل چې شل کاله کیږي د بدن تکړښت ورزش په مختلفو کلبونو کې یې ځوانانو ته روزنه ورکړې، او ورسره په یاد کلب کې دنوموړي په ګډون دوه نور مرستیالان فضل الرحمن ځاځی او ډاکتر منان دي، چې د کلب څخه بېرون په لوبغالي او په سرپټې اکاډمی کې لوبغاړو سره د بدن په تکړه والي کې مرسته کوي.

په اداري کلب کې د ورزش کولو وخت

په اداره کې د رسمیاتو د پیل څخه واخله او ټوله شپه کلب د ځواناو په خدمت کې دی،له رسمیاتو وروسته د اداري کارکوونکي هم کولي شي چې د لوبغاړو سره یوځای خپل تمرینات تر سره کړي، دا به ورزیاته کړم زموږ کلب د کرکټ بورډ اداري پورې تړلي، په ځانګړي ډول د یادې اداري کارکوونکي او لوبغاړي کولای شي چې خپل تمرینات پرمخ یوسي.

د کلب ورزشي ماشینونو شتون

کوم وسایل او ماشینري چې لوبغاړي ورته خورا ډېره اړتیا لري کلب کې شتون لري، او هڅه کې یو چې نور په لوړه کچه او اساسي ډول ماشینونه د بهر څخه وپیرو، د بورډ اداري سره خبره هوکړې ته رسېدلې، او په لنډ وخت کې به د ورزشکارانو د ګټې اخېستلو لپاره هېواد ته انتقال شي.

په کرونايي حالاتو کې د پاملرنې تدابير

دا چې کرونا ټوله نړۍ د بحران سره مخ کړې وه، داسې څوک به نه وي چې د زيانونو تر اغېز لاندې یې نه وي راغلی، په وياړ به ووايم چې افغان لوبغاړو په هر حال کې خپل تمرينات تر سره کول، او ورسره د بدن تکړښت لپاره کلب ته راتلل، د کرکټ بورډ د ډاکتر له لوري چې کومې لازمې سپارښتنې راکړل شوې وې، هغه ټول په نظر کې نيول شوي و، مثال په تو ګه د يو او بل څخه په کافي اندازه لرې والي، د ماسک اچول، د ويټامينونو د اخېستلو لارښوونه، ضد عفوني موادو او سنيټايزرو څخه ګټه پورته کول او داسې نور....

د بدن جوړونې ګټې

د بدن جوړښت او وجود ته د ښکلا تر څنګ خورا نورې ګټې هم رسوي، يو څو به يې د بېلګې په ډول له تاسې سره شريکې کړم، په عمومي ډول به ووايم هر انسان بايد د روغ صحت ساتلو لپاره ورزش وکړي، د بدن د جوړونې حرکتونه نه يوازې بدن ښايسته کوي، عضلاتو کلکوالی، د بدن مقاومت، تنفسي سېستم لوړېدل،د ذهن او دماغو ارامتيا او ترڅنګ يې هغه لوبغاړي چې نورې ورزشي سيالۍ پرمخ وړي، په خپل مسلک کې يې په تکړښت کې خورا رول لوبولی شي.

د بدن جوړښت لپاره ګټور خواړه

په عمومي ډول به ووايم دلته دوه حالاتونه شتون لري يو هغه ځوان چې اضافه غوښه او شحم ولري(چاغ) وي او بل هغه چې کمزوری(ډنګر) وي، نو هغه شخص چې وزن يې ډېر وي بايد هغه خواړه چې ترکيب کې پروټين او شحم ولري لکه غوښه، لوبيا،نورغوړلبنيات داسې خوراک بېا ورته اړين نه دی، او بل هغه څوک چې غواړي عضله جوړه کړي نو بايد ډېر ورزش وکړي، خوراک کې ترکاري،، غوښه،شېدې، کچالو او نور پروټين لرونکي خواړه بايد وخوري.

د کرکټ لوبغاړو لپاره د بدن جوړښت ګټې

کرکټ يوه داسې لوبه ده چې لوبغاړی بايد فېټنېس(تکړښت) ولري، او دلته هم د کرکټ په لوبغاړي ډېر کار د هغه په چېست(سينه)،مټو، او د ورنونو په عضلاتو ترسره کېږي، نو که د دوی همدا د بدن غړي پياوړي وي، په لوړو شپږيزو وهلو کې ورته ګټور ثابتيږي.

د کلب د چاپېريال پاک ساتنه

د کلب مسول له لوري ورزشکارانو ته چې کومې سپارښتنې شوي هغه په جبري توګه په ورزش کار اعملی کيږي، لکه د اوبو تش بوتلونه او نورځځله توکي په کثافت دانۍ کې اچول، په هغه جامو کې چې دوی ورزش کوي بايد هره ورځ ومينځل شي، په کلب کې د هر شخص ټاکل شوي ځای کې خپل لباس کېښودل او تر څنګ خپل صفا کاران لرو چې د کلب څلور خواوې پاک ساتنه په نظر کې ساتي.

RASHID
19

match on December 10, with matches moving to Queensland and South Australia later in the month.

Alistair Dobson, Cricket Australia's Head of Big Bash Leagues, said:

"The introduction of these new innovations is yet another reason why the KFC BBL|10 season is set up to be the most exciting in the League's history.

"The Power Surge, X-Factor and Bash Boost prioritise scoring, exciting cricket, introduce new strategic angles and ensure there's always something to play for throughout the entire match.

"We're confident our fans will love what these innovations bring to the game as many of the world's top T20 players, plus our next generation of Australian stars, bring them to life on field."

Trent Woodhill, the KFC Big Bash League's player acquisition and cricket consultant, said:

"The best T20 leagues across the globe are the ones that continue to innovate, push the boundaries and challenge the status quo. The introduction of these new Playing Conditions firmly puts the KFC Big Bash League in that category.

"There's now more emphasis on the role of the coach, more for our fans to look forward to and more for our broadcasters to speak to during each KFC BBL game.

"Despite the challenges of this winter, we've got more star overseas players coming to the KFC BBL than ever before and now an ambitious set of innovations to shake up the League. I can't wait to see our players and coaches embrace these new concepts."

In KFC BBL|10, the batting side will be given more control over its innings with the addition of the Power Surge. The power play has been shortened to four overs, fixed to the start of the innings. An additional two over “Power Surge” can be taken by the batting team any time from the 11th over onwards.

Teams will also have the ability to change strategy at the 10 over mark of the first innings and substitute in an X-Factor player. This player, named as either the 12th or 13th player on the team sheet, can replace any player who is yet to bat or bowled no more than one over. Endeavour and enterprise will be rewarded in the second innings with the introduction of the Bash Boost. Four competitions points will be up for grabs per match – three points for the overall win and one Bash Boost point, awarded half way through the second innings. The team chasing will receive the Bash Boost if they’re above the equivalent 10-over score of their opposition. If they’re trailing, the fielding side will receive the point.

The evolution of the KFC BBL Playing Conditions follows a raft of star player signings across the league and the introduction of a third overseas player in a club’s playing XI.

The world’s top ranked batter, bowler and all-rounder on the ICC T20I rankings have signed for KFC BBL clubs in Dawid Malan, Rashid Khan and Mohammad Nabi. In addition, the likes of Mitchell Starc, Sam Billings, Jonny Bairstow, Nicholas Pooran, Carlos Brathwaite, Jason Roy, Alex Hales, Morne Morkel and Imran Tahir will also feature prominently in KFC BBL|10.

A full schedule has been released for the upcoming season, with venues for the 21 matches to be played in December confirmed. The season will begin in Tasmania and ACT with the first

KFC BBL|10

Three rule innovations introduced for new season

The tenth edition of the KFC Big Bash League will feature three rule innovations designed to encourage and reward positive, high-scoring cricket.

Courtesy: CricketWorld.Com

پوهنتـــون کـاردان
KARDAN UNIVERSITY

A World of Possibilities

Founded in 2002, Kardan University is the first and leading private university in Afghanistan. Over 4,000 students, 25% of whom are women, currently pursue diploma, undergraduate, and graduate programs at Kardan University's three campuses in Kabul.

With an alumni network of 30,000, Kardan University is a household name in Afghanistan renowned for its academic excellence. More than 600 Kardan University graduates have received prestigious graduate scholarships, including Fulbright, Chevening, DAAD and more.

In September 2018, Kardan Universityearned the Ministry of Higher Education's national accreditation and became the highest-rated institution among both public and private universities in Afghanistan.

Kardan University has received business program accreditation through the International Accreditation Council for Business Education (IACBE) and is candidate for accreditation with ACBSP and AACSB. The university is also member of CHEA International Quality Group (CIQG), Asia Pacific Quality Network (APQN) and Global Business School Network (GBSN).

In 2012, Kardan University helped lay the foundation of the Association of Private Universities and Institutes of Higher Education in Afghanistan and served as its elected Chair for two consecutive terms. Kardan University's strategic initiatives are articulated in its Vision of Excellence, a five-year strategic plan (2015-2020), promoting excellence in research, faculty development, student growth, policies and procedures and public engagement.

Learn more at Kardan.edu.af

عزیزی بانک

Azizi Bank

Azizi Bank

International Master Debit Card

24 HOURS CUSTOMER CARE NO:1515

www.azizibank.af